
سحر (جادو)
(سحر پېژندنه او علاج يې په شرعي طريقه)
Ketabton.com
عثمان عادل (صافی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بســــــم الله الرحمن الرحيم

## دکتاب ځانګړنې:

دکتاب نوم:سحر(جادو)

لیکوال:عثمان عادل (صافی)

پښتی ډیزاین:عثمان عادل (صافی)

ډیزاین :انجینیرمحمد شعیب افلح

ټایپ: انجینیرمحمد شعیب افلح

WhatsApp:0731410012 ADIL SAFI فیسبوک ادرس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**د اسلامي امت ټولو هغو ليکوالانو ته،چې د امت د خيرخواهۍ په لټه کې دي.**

**زما خوږې مور جانې، او دروند پلارجان ته.ګران ورور انجينير محمد شعيب افلح ته،چې د ژوند په هر ډګر کې يې پخپلو قيمتي مشورو او**

**مرستو نازولی يم،الله تعالی دې يې ارمانونه پوره کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

**جادو او کوډې،دا په نړۍ کې له زرګونو کلونو وړاندې راپیل شوي دي،او**

**په مختلفو اشکالو باندې یې، ډیری خلکوته زیان رسولی،او ډیر خلک یې مضرر کړي دي.**

**او دغه جادو(سحر) تر نن ورځې را روان دی،او خلک یې د خپلو پلیتو موخو د پوره کولو لپاره،ترې ګټه اخلي**

**دﷲ پاک ستر فضل دی،چې په خپل کامل دین کې یې مونږ ته هره موضوع راڅېرلې ده،او مونږ ته یې حللارې راښودلي دي. داسلام مبارک دین،د جادو په**

**اړه هم مستقل بحث کړی،اوعلاج یې راښودلې دی.مسلمانان باید دالله تعالی شکراداکړي،چې دومره ستر دین یې ورنصیب کړی،چې د وړې اوسترې ستونزې**

**حل پکې موجود دی.دا کوچنی کتاب هم،د سترذات په مرسته،**

**ما راټول کړی،او تر خپل وسه هڅه مې کړې چې خپله ټولنه له دغو**

**بدمرغیودکتاب له لارې وژغورم،رب تعالی دې په دغه کار کې راسره**

**مرستندویه شي.له تاسو یوه هیله کوم!چې دا کتاب ترهغه چا ورسوئ کوم چې**

**په دغه خرافاتوعقیده لري.دکورنۍ غړواو ماشومانو ته یې ولولئ،تر څوله دغې عظیمې فتنې بچ،او حللارې یې ور مالومې شي.**

**دکتاب د لوست په هیله**

**عثمان عادل (صافی)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب په اړه

**یاد کتاب سحر(جادو) چې همدا محال ستاسو په لاسونو کې دی، او په لوست مو یې پیل کړی، زمونږ د ټولنې تنکي او با استعداده ځوان لیکلی ده.هر کله چې زه د خپلې ټولنې ځوان قشر د پرمختګ پر لور د تګ پر محال وینم، د خپل هیواد راتلونکې ته ډیر هیله من کیږم، او د ډیرې زیاتې خوښۍ احساس کوم . ددې کتاب محتوا(موضوع) د ټولنې پریوې مهمې ستونزې او بدمرغۍ را څرخي، دغه بدمرغي چې مونږ او تاسو ورته په عامه اصطلاح کوډې وایو. نن ورځ زمونږ ټولنه کې، که نارینه دي،یا زنانه، اکثره یې په دغه خرافاتي عقیدو او کفري اعمالو باور لري، نو نن ورځ دغه ډول موضوعاتو ته سخته اشده اړتیا ده،چې علماء یې پر ممبرونو، لیکوالان یې پر کتابونو، او ویناوالان یې په خبرو کې یاده کړي. ځکه چې زمونږ د ټولنې اکثریت خلک دغه اعمالو ته د شریعت په نظر ګوري،او فکر کوي چې دغه عمل روا عمل دی.له محترم عادل صیب څخه یو جهان مننه،چې دغې موضوع ته یې وخت ورکړ، او د ټولنې اړتیا یې درک کړه.**

**لا دې رب بریالی لري. کتاب حتماً یوځل ولولئ؛ د سحر(جادو) په اړه سپین وضاحت کړی دی، باوري یم چې تاسو به ترې ډیر څه لاسته راوړئ، او له ډیرو ګټو به برخمن شئ ! زه مې خبرې همدلته رانغاړم،او تاسو له کتاب سره یواځې پریږدم.**

**د کتاب لوست په هیله**

**انجینیر محمد شعیب افلح**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سحر(جادو) څه شی ده

**سحر(جادوّ) په لغت کې،تېر اېستلو یا دوکه کولو ته وایې.**

**او امام قدامه رحمه الله وایې:چې سحر هغه منتر ته ویل کیږي،چې په ویلو، لیکلو، یا عمل کولو سره یې د بل چا بدن، زړه، یا عقل اغیزمن کیږي.**

**دا وو د سحر یا جادو اصل تعریف او مانا.ټول علماء په دې متفق دي،چې سحر(جادو) کوډې موجودې دي، یا حقیقت لري.دثبوت لپاره یې دالله د رسول هغه واقعه ذکر کوي،چې په مدینه منوره کې پرې یهودو کوډې کړې وې،او د قران دغه ایت یې هم ثبوت دی:[ د سُورَةُ البَقَرَة:۱۰۲]**

**وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُوا الشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَٰنَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَٰنُ وَلَٰكِنَّ الشَّيَٰطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى الْءَاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ**

**ژباړه:**

**او په دې لړ کښې یې د هغو شیانو پیروي وکړه، چې شیطانانو د سلیمان (ع) د سلطنت د نوم په اخیستلو وړاندې کول .په داسې حال کښې چې سلیمان (ع) هیڅکله کافر شوی نه و، او د کفر مرتکبین خو هغه شیطانان ول چې خلکو ته یې کوډې ښودلې، هغوی هغه څه تعقیبول چې په بابل کښې پر دوو پرښتو هاروت او ماروت نازل شوي ول .په داسې حال کښې چې هغو (پرښتو) به چې هر کله چا ته هغه ښودل، نو لومړی به یې په ډاګه دا خبره ورته کوله" :ګوره !که موږ یوازې د ازمېښت لپاره یوو، نو مه کافر کېږه - ".بیا هم دې خلکو له هغو څخه هغه څه زده کول چې په هغو سره د مېړه او ښځې تر منځ بېلتون راولې .ښکاره وه چې د خدای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له اجازې پرته هغوی په دې وسیله هیچا ته هم ضرر نشو رسولای؛ خو له دی سره سره يې داسي څه زده کول چي په خپله د هغوی له پاره ګټور نه؛ بلکې زیان ول .او هغوی ته ښه معلومه وه، چي که څوك ددې شي خریدار شي، د هغه لپاره په اخرت کښې هیڅ ونډه نشته .څومره ناکاره سودا ده چي د هغې په بدل کښې هغوی خپل ځانونه خرڅ کړل؛ کاشکې هغوی وربانديې پوهیدلای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سحر(جادو) تاریخ

سحر په نړۍ کې له ډېر پخوا راپیل دی.ځینې علماء دا د دوه پرښتو په راتګ سره ښایي.
هغه پرښتې چې د بابل ښار ته راغلې، نومونه یې هاروت،او ماروت ول.
بابل ښار چې په عراق کې موجود دی،او په نړۍ کې،د لمړني تمدني ښار په نوم شهرت لري.
په بابل کې زرګونه کلونه وړاندې،د هندسې،او انجینرۍ علوم موجود ول.
دلته خلکو ستر پرمختګونه کړي ول.
دې ښار ته خدای پاک دوه ملائیکې راولیږلې،چې اجازه یې درلوده، ترڅو نورو ته سحر ور زده کړي.
ولې خدای پاک دلته ملائیکې ددې لپاره راولیږلې،چې خلکو ته سحر ور زده کړي؟
ایا خدای تعالی خپله غوښتل، چې خلک دې سحر زده کړي؟ او که بل کوم حکمت پکې موجود وو؟
نو ددې جواب هم تاسو په پورته ایت کې لوستلای شئ،چې هغوی صرف د ازمېښت لپاره راغلي وو.
نړۍ د ازمېښت کور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سحر( جادو)د پیریانو سره تړاو لري؟

**هو بېلکل سحر له پیریانو سره ارتباط لري، او اړیکه یې ډېره سره نږدې ده.**
**که چېرته یو څوک وغواړي چې، سحر زده کړي، نو هغه به له خلکو او ټولنې لرې دښتو ته ځي؛داسې ځای ته چې هلته د الله تعالیٰ نوم او د قران ایاتونه وانوري .دی به هلته ځان نجس کوي،لسګونه شپې به کوي، له خپلې ګندګۍ )مرداری(سره او بیا ورته شیاطین راڅرګندېږي، په ده باندې به سخت شرایط ږدي ،لمړی به هغه ترسره کوي نو بیا به ساحر جوړېږي؛ څومره چې دی له الله لیرې کیږي هغومره به یې سحر زور اخلي؛یعنې پل پر پل به پورته ځي، چې بلاخره به په همدې حالت کې هلاک شي؛نو دلته مالومه شوه چې سحر له پیریانو سره تړلای،که څوک مو ولید چې،هغه ورک شی یوځل ومونډ،یا یې له چت څخه تعویز یا بل کوم شی له غیبو راڅرګند کړ نو پوه شئ چې، دا ورسره شیاطین مرسته کوي، ځکه ځینو جنیاتو ته رب العلمین دومره قدرت ورکړی چې کوم څیز غیب او ښکاره کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بلقيس تخت

سليمان عليه السلام وويل :چې څوک به ماته د بلقيس تخت زر تر زره راورسوي،نو يو پيري وويل زه کولای شم دغه کړنه وکړم، په دومره وخت کې چې ته دې له ځايه پورته کيږې، نو هغه غيب شو، د بلقيس له ماڼۍ څخه يې تخت غيب کړ، او د سليمان عليه السلام مخې ته يې راورسوه، وړاندې له دې چې هغه له خپل ځايه پورته شي؛ نو له دغې واقعې مالوميږي چې، ځينو پيريانو ته دا قدرت رب تعالی ورکړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یوه کوډګر کیسه

**یو شخص کیسه کوله:ما یو استاذ درلود، چې هغه ماته سحر راښووده، نو هغه ټول هغه څه رازده کړل،چې په اړه یې پوهېده،بیا یې ماته وویل :ما درته ټول هغه څه دروښودل،چې زما زده و.زه مې له استاذ څخه لاړم؛داسې ځای ته چې هلته یو غار(سمڅه )موجوده وه،او ما هلته یوه حلقه وکښله زه پکې پاتې شوم،ما له ځان سره هیڅ روښنایي،د ګرمولو لپاره اور وېنوړ،او هلته لسکونه شپې پاتې شوم؛ په دغو شپو کې ما خپل هر حاجت مرداري همدلته د حلقې داخل کې ترسره کړل، او پکې همدلته ورسره یوځای اوسیدم؛وایي بلاخره ماته شیطانان راڅرګند شول، نو ماته یې لږ څه راوښودل،ما ترې د نورو غوښتنه وکړه،نو هغوی وویل :لاړ شه او له محرم سره دې زنا وکړه،یعنې له مور،خور،لور،خاله،عمه ...سره ،زه هم لاړم او همداسې مې وکړل، بیا راغلم او دوی نور هم رازده کړل،ما د نورو غوښتنه وکړه،دوی وویل:لاړ شه او د الله د دین،کتاب،او عبادت بې حرمتي وکړه،دوی زه درجه په درجه په شرک او کفر کې لوړولم ،چې بېرته راونه ګرځي.دلته تاسو ته دوه وضاحته وشول:**

**لمړی دا چې:که ساحر هرڅومره ستر کفر کوي، نو کوډې به یې هماغه شان غښتلې کیږي،**

**دوهم دا چې:سحر له پیریانو سره وصله اړیکه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سحر او معجزې ترمنځ توپير

**معجزه د الله تعالی فعل دی،چې بغيرله اسبابو راڅرګنديږي، او دا داسې نه دی چې،نبي دې چاته زده کړای شي،يا دی چې هر وخت وغواړي راڅرګنده يې کړي،مګر دا چې هلته هغه خپل صداقت ښايي، يا د نبوت دليل لپاره يې څرګنده کړي خو له دې وړاندې نبي الله ته رجوع کوي، او له هغه څخه يې غوښتنه کوي،ترڅو يې معجزه څرګنده شي.**

**او سحر برعکس خودل کيږي،دغه فن او طريقه يو نفر له بل چا څخه زده کولای هم شي، او ددې لپاره يې اسباب او تګلارې مالومې دي، مرحله لري چې د سحر زده کړې ته پرې رسيږي.**

**او دغه موضوع په پورتنۍ واقعه کې ذکر شوې ده.**

**معجزه په ظاهر او باطن کې حقيقي وي، مګر سحر د سترګو دوکه او چل فريب دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سحر د شریعت( اسلام )له نظره

**سحر د اسلام له نظره ناروا عمل دی، چې له شرک سره برابر ګڼل شوی دی.**
**محمد صلی الله علیه وسلم ترې ممانعت کړی ده.**
**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:**
**له بدو خبرو څخه ځان وژغورئ( له شرک او جادو)څخه.**
**په فتح الباري کتاب کې،علامه عقلاني رحمه الله فرمايي:چې امام نووي رحمه الله فرمايي:چې سحر حرام دی د کبائرو په رایه سره،یعنې د جمهورو او سترو علماءوو په اتفاق سره سحر(جادو)حرام عمل دی.**
**او رسول الله په اووه هلاکوونکو شیانو کې**
**یاد کړی دی.د سحر درجې او ډولونه دي،چې انسان په ځینې حالاتو کې کافر او په ځینو کې سخت ګنهکاروي.**
**د سحر( جادو)لوستل او زده کول قطعاً حرام دی.**

**اسلامي شریعت له سحر او ساحر څخه کرکه لري، او د دغه عمل د لمنځه وړلو حکم کوي؛**
**نو هر مسلمان باید له دغو کړنو څخه خپل ځان او ټولنه وژغوري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایا د جادو له امله د چا په اړیکه کې ستونزه پیدا کیدای شي؟

سحر( جادو )پخپل ذات کې ډېر قسمونه لري چې ځینې به یې دلته ذکر کړو

۱-د ښځې او خاوند ترمنځ نفاق او کینه اچول.

۲-د ښځې او خاوند ترمنځ جدایي راوستل.

۳-د ښځې د شنډیدو(بې اولاده کیدو )لپاره.

۴-چې ښځې ته خاوند پیدا نه شي او نکاح یې ونشي.

۵-چې زده کوونکی درس زده نه شي کړای یعنې د ذهن فلج کول.

۶-چې ښوونکی درس تدریس نه شي کړای.

۷-چې بدني مرضونه چا کې پیدا شي.

۸-د یو چا د لیونتوب لپاره.

۹-ددې لپاره چې څوک بد اخلاقه او د غلطو
کارونو ترسره کوونکی شي .

ځینې علماء وایي :چې ان ځینې ساحران کولای شي د چا قواره له انسانه حیوان ته بدله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سحر يا جادو ډولونه

**امام راغب رحمه الله فرمايي،سحر په څو ډوله ده:**

**لمړی يې:نظر بندي يا شعبده بازي،په دې کې جادوګر له خپلې چالاکۍ څخه کار اخلي، او د خلکو ذهن او سترګې تر تاثير لاندې راولي.**

**جادوګر دلته خلکو ته ځينې شيان په بل شکل ورښکاره کوي،لکه د موسیٰ عليه السلام، او د نورو کوډګرو کيسه،هغوی د خلکو ذهن او سترګې تر تاثير لاندې راوستې،او بيا يې تشې رسۍ ګانې پر ځمکه ګوزار کړې، چې د خلکو په نظر کې هغه ګرځېدونکي ستر ستر ماران**

**ښکارېدل.**

**د اعراف په سورت کې هم الله تعالیٰ، د مصر د جادوګرو په اړه وايي:**

**ژباړه :(هغوی د خلکو په سترګو جادو وکړه.)**

**او بل ځای په سورت طه کې هم فرمايي:**

**(د هغوی د جادو له امله د موسیٰ عليه السلام په خيال کې دا راغلل، چې د رسيو ماران منډې وهي.)**

**دلته واضحه شوه چې جادوګر د خلکو په سترګو او ذهن جادو کوي.**

**دوهم ډول يې :هغه جادو او سحر دی، چې د شيطانانو په واسطه زده کيږي،او ددې لپاره جادوګر له شيطان سره ملګرتيا پيلوي، او ورڅخه جادو زده کوي.**

**الله تعالیٰ يې په اړه سورت بقره کې فرمايي:**

**ژباړه :(بلکې شيطانانو کفر وکړ چې خلکو ته يې جادو ور زده کوله)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دريم ډول يې:د جادوګرو وينا ده :چې مونږ په يو چا يا يو شي کې، د شکل او اصل له لحاظه بدلون راوستلاى شو .لکه :له انسان نه حيوان جوړولی شو، او داسې نور... مګر د اسلامي حقپرستو څېړونکو علماءوو له نظره، دا خبره ناممکنه ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تعویذ د اسلام له نظره

د الله رسول خلک د قران په ایاتونو دم کړي دي،ولې تعویذ په غاړه یا بل ځای تړل، نه په قران کې شته، او نه په احادیثو کې، مګر ځینې علماء په دې نظر دي، چې تعویذ هم د دم یو ډول دی.

د ابو المختار فقه حنفي د فتاويې یوسفیه په حواله لیکي، چې د رسول الله، صحابوو،او وروسته صالحانو خلکو، همدغه عمل پاتې شوی.تعویذ هم د دم یو شکل دی.

فتاوي یوسفیه د تعویذ د جواز لپاره درې شرطونه ضروري بولي:

۱-د یو جایز او روا عمل لپاره به وي.

۲-د تعویذ الفاظ به واضح وي، د کفر په الفاظو به مشتمل نه وي.

۳-تعویذ به مؤثر بالذات نه ګڼي.

دوکتور سلیمان الاشقر هم پخپل کتاب سحر کې دغه شرایط ذکر کړي دي،او زیاتوي چې الفاظ به یې عربي وي.

البته د تعویذ تاثیر  یقیني ګڼل غلط دي.

دا هم د نورو تدبیرونو په ډول کارول کیږي.

او تاثیر کول نه کول یې د الله د ارادې پورې تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سحر علامې

**سحر(کوډې) ډېر قسمونه لري، چې د هغو څخه به يو څو نمونې تاسو ته ذکر کړو.سحر تخيل، سحر محبت، سحر تفريق، سحرجنون، سحر مرض**

**١ .سحر تخيل :د اشکالو تبديل کول په مجازی ډول.**

**٢ .سحر محبت :دا ډول سحر بيله کوم واضح سببه يو شخص د مقابل لوري محبت ته کشوي.**

**سحر تفريق :دا سحر د ښځی ،نر او يا فاميل ترمنځ جلا والي راولي.**

**٣ .سحر جنون :چی يو انسان ليونتوب ته بيايی.**

**۴ .سحر مرض :دا ډول سحر يو انسان په مختلفو امراضو اخته کولاي شي .**

**د سحر او جن (پيري)علايم چې عمده يې په په لاندې ډول دي.**

**١ .د صحت مشکلات بيله کوم واضح عامل ( د ټول بدن يا دبدن ديوې برخې دردونه ياکار پريښودل، دامراضو بدليدل، جلدي مرضونه، نه جوړيدونکي زخمونه، نااشنا مرض، د معدې مشکلات.)**

**٢ .د اعصابو حالت غير عادي کيدل (قهر، ويره، خواشيني، خفګان، هيره، شکونه، نفرت، ژړا، محبت، داوازونو اورېدل، تصادفي ليونتوب، اشکال ليدل، دخودکشۍ په اړه فکرونه کول.)**

**٣ .تکراراً بدخوبونه ليدل ( قبرونه، مړي، وينه، مرداري، اور يا دود، پاکې يا چټلې اوبه، زيات احتلام پيښيدل، دحيواناتو او يا انسانانو تر تعقيب لاندې کيدل، لوړو ځايونو ته ختل ، رالويدل، په هوا کې الوتل.)**

**۴ .ناڅاپه اوغير عادي د ژوند په چارو کې بندوالی (کاروبار، واده، مطالعه، مکرر دحمل سقط، اولادونو زيږيدل او معيوب اولادونه زيږول اوداسې نور.)**

**۵ .پيري نيول ( بې حسه کيدل، د بې حسه کيدو په وخت کې خبرې او يا پرتې ويل.)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سحر(کوډو )علاج په عصري طب ناممکن دی، او نه يې علت معلوميدلای شي؛ ځکه دا يو روحاني او نفسياتي امراض دي، چې بعضې وخت جسماني علتونه هم لري؛ لکه : د بدن**
**خارش، د معدې مشکلات او يا زخمونه .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوډګر ښځګه له ښځو سره زنا کوي

**یو ملګري مې کیسه کوله چې ما له یو کوډګر وپوښتل:تاسو ښځګه دغه پیغلې**

**انجونې او ښځې په زنا کولو راضي کوي؟!**

**هغه راته په ځواب کې وویل:کله چې دوی زمونږ خوا ته راشي نو مونږ یې د ناروغۍ پوښتنه کوو، دوی راته خپل مرض بیان کړي، بیا مونږ له خپل**

**چل ول کار اخلو، که چېرته یوه پیغله داسې وي چې هغه لا واده شوې نه وي**

**او کوم مرض پرې راغلی وي، مونږ بیا د دوی کورنی ته وایو چې د لور په**

**رحم کې مو پیریان دي، باید هغه وویستل شي کنه نو راتلونکی یې ډېر خرابېدای شي ؛ کورنۍ یې چې له وړاندې وېرېدلي وي نو هغوي له مونږ سره راضي کېږي مونږ هغه مخصوصي کوټې ته داخل کړو،بیا چې ورشو**

**هغې پیغلې ته وایو، جامې دې وباسه چې زه ستا په رحم کې څه لیکم، هغوی**

**چې ساده او وېریدلي وي نو زمونږ خبره ومني، او همداسې وکړي؛**

**مونږ له هغې سره زنا وکړو او بیا یو څو له ځانه جوړ منترونه هم ووایو**

**چې دا پیغله لا باوري شي،همدا کړنه مونږ له هغو انجونو/ښځو سره هم کوو**

**چې دهغې اولاد نه کیږي،او مونږ ته راځي.**

**دا کړنې له هغو سپیڅلو پیغلو سره کېږي، چې هغوی پر دې فساد او فریبونو**

**نه پوهېږي، کوډګر ورته ملکې ښکاري او دوی یې هر امر ته قایل دي.**

**نن ډېری کوډګر یو بل پلیت عمل کوي،چې هغه ددغه فساد پرمهال ویډیو کول**

**دي، او په همدغه ویډیو بیا هغه سپیڅلې پیغلې وېروي، او هر نامشروع کړنه**

**بیا پرې ترسره کوي. تاسو باید هوښیار اوسئ،نن ورځ د عالم او پټګي ترشا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستاسو دښکار لپاره ستر وحشیان او ځناور ناست دي، چې هم ستاسو د مال اوهم دناموس وږي دي.**

**الله مو دې تېولنه له دې بدمرغه خلکو پاکه کړي.**

**داسې نورې واقعې او کیسې هم شته، چې دلته یې په لیکلو زما ګوتې لړزیږي.**

**له تاسو یوه هیله کوم چې په هر عالم او ملا باندې باور مه کوئ، او خپلې سپېڅلې پیغلې مه ورلیږئ، هیله کوم، هیله کوم، هیله کوم، دا مو د عزتونو او ناموسونو وږي دي، ددوی پر ژبه هیڅ اثر نشته،او هیڅ علاج نشته،بس دوی**

**دلته صرف تجارت او د پیسو لپاره ناست دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کوډګرو نښې نښانې

**فهد بن سليمان القاضي د ساحر او جادوګرو علايم داسې بيانوي:**

**۱-ساحر او جادوګر د مريض، او د مريض د مور، د نوم پوښتنه کوي.**

**۲-له مريض څخه ځينې نښانې غواړي لکه: خولی، ږمنځ،او داسې نور.**

**۳-د يو حيوان په خاصو طريقو ذبحه کول غواړي، او د حيوان د ځينو برخو سره وينه ګډول.**

**۴-په بې مفهومو خبرو او نيمه ژبه به خبرې کوي .يعنې داسې خبرې چې ستاسو ذهن پرې خلاص نه شي.**

**۵-يو شی به مريض ته ورکوي، چې په ځمکه**

**يې خښ کړي، يا د کور په کوم کونج کې يې خښ کړي.**

**۶-د خاصو وسايلو په وسيله د مريض له احوالو ځان خبرول.**

**۷-د فسق علايم به پکې له ورايه ښکاري، او تقوا به هيڅ نلري.**

**۸ -درته به وو ايي چې په تا کوډې شوي، او فلانکي ځای کې دي.**

**۹-د قران اياتونه لولي،منځ کې يې غلی کيږي، همدغه محال دی جادو او منتر بيانوي.**

**۱۰-د اغوستلو، يا فرش لپاره به ځانګړی( خاص )رنګ درته وښايي.**

**۱۱-که دوه درې کسه وي، او د مريض يواځې پاتې کېدل وغواړي، د دم لپاره.**

**۱۲-که چېرته يې ډېرې پيسې وغوښتې، چې مصرف يې زيات دی.**

**۱۳-که کوم خاص صفت والا حيوان وغواړي، لکه :توره چرګه، چاغه چرګه او نور.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۴-داسې څه لیکل چې مفهوم ونلري لکه کرښې عددونه مثال ع ـ غ یا ۱۱ ـ۲۲ ـ ۳۳ او نور.**
**۱۵-داسې لیکنه، چې په هغې کې مربع خانې رسمې وي، او منځ کې یې خاص عددونه لیکل شوي وي .لکه ش ـ س ـ ص ـ ض او نور.**
**۱۶-له مریض څخه غواړي، چې ګوښه شي او له خلکو څو ورځې لیرې واوسي.**
**۱۷-له مریض څخه غواړي، چې په یو خاص وخت کې اوبو ته لاس ورنوړي.**
**۱۸-د پیریانو د تابع کولو دعوه کوي.**
**۱۹-مریض ته ورقه ورکول، ترڅو یې وسوځوي او لوګی یې کړي.**
**۲۰-کار به درته وایي :چې ضمانت سره کوم،او دا خپله د الوهیت دعوه ده،ځکه بغیر له الله څخه هیڅوک یو کار په ضمانت سره نه شي کولای.**
**۲۱-که چېرې هغه ستا صفات درته ووایي :چې ته دغه ډول شخص یې، یا ستا دغه عدتونه دي، یا بغیر ستا د ویلو، هغه ستا د مرض اعلاج وکړي، دا هم ساحر دی او مسلمان نه شي کیدای.**

**دغه د یو ساحر علایم دي،که مو په یو نفر کې دغه ډول کړنې ولیدې، نو پوه شه چې ساحر دی، او ځان ترې وساتئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سحر یا جادو علاج په شرعي طریقې سره

**هغه څه چې د سحر(جادو) نه ځان پرې ساتل کیږي:**

**۱ .ټول فرائض او واجبات ادا کول .له ټولو محرماتو ځان ژغورل .او له ټولو گناهونو څخه توبه ایستل .که لمونځونه ټول په جومات کې له جماعت سره وشي، بیخي ښه خبره ده.**

**۲ .د قرآن کریم ډیر تلاوت کول .هره ورځ باید د قرآن کریم یو جزء(یوه برخه) تلاوت شي.**

**۳.آیت الکرسي له هر فرض لمانځه وروسته .د خوب پر مهال او د سبا او ماښام پر وخت لوستل.**

**۴ .معوذات (د قرآن درې وروستي سورتونه) د سهار او ماښام پر مهال درې – درې ځله لوستل.**

**۵ .د سهار او ماښام اذکار .له فرض لمانځه وروسته اذکار او د خوب پر وخت اذکارو باندې اهتمام کول (البخاري، مسلم، الترمذي، ابوداود، الحاکم)**

**۶ .د امکان په صورت کې سهار په نهره اووه دانې» عجوة «خرما/کجورې خوړل . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي» :څوک چې سهار اووه دانې عجوة وخوري؛ هغه ته به په دې ورځ کې زهر او سحر څه زیان نه رسوي .«(البخاري، مسلم)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د امام مسلم په یوه روایت کې د مدینې منورې عامه خرما ذکر شوې .د بعضې علماوو نظر دا دی، چې هره خرما که وخوړل شي؛ امید شته چې الله تعالی په کې یاده فایده ایښې وي.**

**که چېرته په چا سحر(جادو/کوډې (وشي؛ هغه) ناروغ) باید لاندې کارونه وکړي:**

**۱ .غالباً ساحران چې کله سحر کوي؛ په یوه جامد او محسوس توکي یې کوي، او بیا هغه چېرته پټ ږدي، او غوټې ورکوي؛ نو د سحر د له منځه وړلو تر ټولو مؤثره لاره دا ده، چې د امکان په صورت کې په مباحه طریقه هغه پیدا او ضایع کړي .(فتح الباري، زادالمعاد)**

**۲ .د شرعي دم په وسیله.**

**۳ .د امکان په صورت کې دې د سدر(بېرې *)**
**شنې پاڼې وټکول شي او د غسل اندازه اوبو کې دې واچول شي(که سدر نه وي نو ساده اوبه کفایت کوي)او له فاتحې، آیت الکرسي او معوذاتو نه سربېره؛ لاندې آیتونه دې هم پرې ولوستل شي، او له هغې اوبو نه دې ناروغ(په چا چې سحر یا کوډې شوې وي) لږې وڅښي، او نورو باندې دې غسل وکړي .که اړتیا شوه؛ څو ځله دې دغه طریقه وکړي؛ ان شاء الله چې شِفاء به ومومي:**
**دغه ایاتونه دې په اوبو وویل شي:**
**» -وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ *فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ * فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَانقَلَبُواْ صَاغِرِينَ * وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ * قَالُواْ آمَنَّا بِرِبِّ الْعَالَمِينَ * رَبِّ مُوسَى وَهَارُونَ[ «* الأعراف : ۱۱۷- ۱۲۲]**
**» -وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُونِي بِكُلِّ سَاحِرٍ عَلِيمٍ * فَلَمَّا جَاء السَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَى أَلْقُواْ مَا أَنتُم مُّلْقُونَ * فَلَمَّا أَلْقَوْاْ قَالَ مُوسَى مَا جِئْتُم بِهِ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



السِّحْرُ إِنَّ اللّهَ سَيُبْطِلُهُ إِنَّ اللّهَ لاَ يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِينَ * وَيُحِقُّ اللّهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ[ .«* يونس : ٧٩ – ٨٢ ]

» -قَالُوا يَا مُوسَى إِمَّا أَن تُلْقِيَ وَإِمَّا أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَى * قَالَ بَلْ أَلْقُوا فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَى * فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُّوسَى * قُلْنَا لاَ تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ الأَعْلَى * وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ وَلاَ يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى * فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَى[.«طه : ٦٥ – ٧٠]

» -قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ * لاَ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ * وَلاَ أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * وَلاَ أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ * وَلاَ أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ.« *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نظر(سترګو )علاج

**له نظر لګېدو نه مخکې تدابیر:**

**۱ . د بد نظر لګېدو نه د مخنیوي په موخه دې ټول هغه احتیاطي تدابیر اختیار کړای شي، چې د سحر نه د ژغورنې له پاره پورته ذکر شول.**

**۲ .څوک چې له خپلو سترګو نه ډارېږي چې بل څوک نظر نه کړي؛ هغه ته پکار ده چې کله هم عجیب او هېښوونکی شی ویني؛ هغه ته دې د برکت دعا وکړي( .موطا، ابن ماجه، أحمد)**

**باید چې ووایي :ماشاء الله، تبارک الله یا لا حول ولا قوة اِلا بالله( .زادالمعاد)**

**۳ .د چا د نظر کېدو احساس چې وشي؛ د هغې محاسن باید پټ کړای شي( .زادالمعاد، شرح السنة للبغوي)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نظر لګېدو نه وروسته د هغه علاج:

**١ . که نظر کوونکی کس معلوم شي د هغه نه باید وغوښتل شي چې اودس وکړي او بیا دې په هغو اوبو نظر کړل شوی کس یا ناروغ ځان ومینځي (.سنن ابوداود، زادالمعاد)**

**دغه راز چې څوک سترګو وهلی وي یا نظر شوی وي؛ هغه باندې باید سورة فاتحه(الحمدلله)، د البقرې سورې لومړی سر، آیة الکرسي، د البقرې سورې وروستۍ برخه(آمن الرسول)...، د آل عمران سورې لومړی سر او د الحشر سورې وروستۍ برخه تلاوت شي .ځینې نور آیتونه هم مؤثر دي؛ لکه:**

**-﴿فَسَيَكۡفِيكَهُمُ ٱللَّهُۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٣٧﴾[ البقرة.]137:**

**-﴿وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَيُزۡلِقُونَكَ بِأَبۡصَٰرِهِمۡ لَمَّا سَمِعُواْ ٱلذِّكۡرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجۡنُونٞ ٥١﴾ [القلم.]51 :**

**-﴿أَمۡ يَحۡسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۖ فَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ ءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَءَاتَيۡنَٰهُم مُّلۡكًا عَظِيمٗا ٥٤﴾[ النساء.]54 :**

**-﴿فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ٣﴾[ الملك.]3 :**

**-﴿يَٰقَوۡمَنَآ أَجِيبُواْ دَاعِيَ ٱللَّهِ وَءَامِنُواْ بِهِۦ يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُجِرۡكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ٣١﴾ [الأحقاف.]31 :**

**-﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٞ وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارٗا ٨٢﴾ [الإسراء.]82 :**

**او همدارنګه د قرآن درې وروستي مبارک سورتونه.**

***دغه مطلب له رسول علیه السلام څخه نه دی روایت شوی؛ خو علامه ابن حجر په »فتح الباري «کې د وهب بن منبه له تجاربو را اخیستی دی .دا یوازې د سحر له پاره نه؛ بلکې د نظر او بدو سترګو علاج هم پرې کېدای شي .والله اعلم.**

**دوهم علاج یې:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې پر يو ليټر زيتون تيلو، او شل يا ديرش ليټره اوبو به دا لاندې ذکر شوي اياتونه 7 اوه ځلي دم او چوف کړي، بيا په دا دم شوي اوبو، مريض هره ورځ لمبېږي، او په دا دم شوي تيلو به هره شپه له ويده کېدو مخکی تولـه جسم غوړوی.ان شاءالله سحر يا کوډې که هر څومره قوي هم وي د الله جل جلا له په اراده سره به باطلېږي.

هغه الرقيه الشرعية داده:

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (1) الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (2) الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (3) مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (4) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (5) اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (6) صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ
الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ (7) الفاتحة

الم (1) ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ (2) الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ (3) وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ (4) أُولَئِكَ عَلَى هُدًى مِنْ رَبِّهِمْ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ(5) البقرة5-1

واتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ عَلَى مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّى يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُمْ بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِ أَنْفُسَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ (102) وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُوا وَاتَّقَوْا
لَمَثُوبَةٌ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ خَيْرٌ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ(103) البقرة

وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ (163) إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (164) وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُوا إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ(165) البقرة163-165

اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ
وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ (255) لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (256)اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُمْ مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (257) البقرة254-255
لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَ ◌اءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (284) آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ
لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ(286) البقرة (284-285-286)

شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُواْ الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (18)إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَمَنْ يَكْفُرْ بِآيَاتِ اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ (19) آل عمران19-18

(c) ketabton.com: The Digital Library



إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ

مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ (54) ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (55) وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا إِنَّ رَحْمَةَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ(56) الأعراف56-54

وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ (117) فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (118) فَغُلِبُوا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوا صَاغِرِينَ (119) وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ (120)قَالُوا آَمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ (121) رَبِّ مُوسَى وَهَارُونَ(122) الأعراف122-117

فَلَمَّا أَلْقَوْا قَالَ مُوسَى مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ إِنَّ اللَّهَ سَيُبْطِلُهُ إِنَّ اللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِينَ (81)وَيُحِقُّ اللَّهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ(82) يونس82-81

قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنْتَ الْأَعْلَى (68) وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى(69) طه69

أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ (115) فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ (116) وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آَخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِنْدَ رَبِّهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ (117) وَقُلْ رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ (118)المؤمنون118-115

وَالصَّافَّاتِ صَفًّا (1) فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا (2) فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا (3) إِنَّ إِلَهَكُمْ لَوَاحِدٌ (4) رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ (5) إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(6)وَحِفْظًا مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ مَارِدٍ (7) لَا يَسَّمَّعُونَ إِلَى الْمَلَإِ الْأَعْلَى وَيُقْذَفُونَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ
(8)دُحُورًا وَلَهُمْ عَذَابٌ وَاصِبٌ (9) إِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَأَتْبَعَهُ
شِهَابٌ ثَاقِبٌ(10) الصافات1-10

وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنْصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا
إِلَى قَوْمِهِمْ مُنْذِرِينَ (29) قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ
يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَى طَرِيقٍ مُسْتَقِيمٍ (30) يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ
لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ (31) وَمَنْ لَا يُجِبْ دَاعِيَ اللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي
الْأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُ مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءُ أُولَئِكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ(32) الأحقاف29-32

يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنْفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانْفُذُوا لَا
تَنْفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ (33) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (34) يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِنْ نَارٍ
وَنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرَانِ (35) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ(36) الرحمن33-36
لَوْ أَنْزَلْنَا هَذَا الْقُرْآنَ عَلَى جَبَلٍ لَرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُتَصَدِّعًا مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا
لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ (21) هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمَنُ
الرَّحِيمُ (22) هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ
الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ (23) هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَاءُ
الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ(24) الحشر21-24

قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا (1) يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ
فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا (2) وَأَنَّهُ تَعَالَى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَلَا وَلَدًا (3) وَأَنَّهُ
كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى اللَّهِ شَطَطًا (4) وَأَنَّا ظَنَنَّا أَنْ لَنْ تَقُولَ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا (5)
وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْإِنْسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِنَ الْجِنِّ
فَزَادُوهُمْ رَهَقًا (6) وَأَنَّهُمْ ظَنُّوا كَمَا ظَنَنْتُمْ أَنْ لَنْ يَبْعَثَ اللَّهُ أَحَدًا (7) وَأَنَّا لَمَسْنَا السَّمَاءَ
فَوَجَدْنَاهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا (8) وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ فَمَنْ يَسْتَمِعِ الْآنَ
يَجِدْ لَهُ شِهَابًا رَصَدًا(9) الجن1-9

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1) اللَّهُ الصَّمَدُ (2) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (3) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ(4) الاخلاص**

**قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (1) مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ (2) وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ (3) وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ (4) وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ(5) الفلق**

**قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (1) مَلِكِ النَّاسِ (2) إِلَهِ النَّاسِ (3) مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ (4) الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ (5) مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ(6) الناس**
**دغه پورته ذکر شوي علاجونه، له قران او احادیثو رانقل او ثابت دي.**
**یا هم د جمهورو علماءوو د تجربو نتیجه ده.**
**له دې ځخه غیر که هر مسلمان، د جادو یا کوډو د علاج لپاره، کوم فاسق جادوګر،یا کوډګر ته ورغلل،نو رب تعالیٰ به عظیمه سزا ورکړي،او له یو نظره،دا شرک دی چې د الله د ښودل شوې لارې پرځای،تاسو د نورو طرف ته ورځئ،او له هغوی مرسته غواړئ.**
**دا عمل د الله او د هغه د رسول سخت بد راځي.**
**اسلامي شریعت له جادو او جادوګرو دواړو نفرت لري.**
**زما مسلمانو ورونو او خویندو !راځئ چې د الله او د هغه د پیغمر لاره خپله کړو !ترڅو مو ژوند د ذلت پرځای باعزته شي.**
**نن چې زمونږ په ټولنه کې، دغه بدبختئ روانې دي،یواځینی لامل یې زمونږ ناپوهي په دین کې ده،هر پټکی والا سړی راته عالم ښکاري،او مونږ یې پر لور ورځو،زمونږ خویندې، میندې یې پر لور ورځي، چې بلاخره یې دغه د عالم په جامه کې، وحشیان عزتونه پایمالوي،راځئ نور دغه د جِهل دروازې وتړو، او د علم ډیوه روښانه کړو،چې مونږ او زمونږ کورنئ له دغو بدمرغیو وژغورل شي.**

**رب تعالیٰ دې زما دغه هڅه، له فایدې ډکه کړي،او په دې هیله چې، نور دغه جهالت پای ته ورسیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای.

# عثمان عادل (صافی)

(c) ketabton.com: The Digital Library




# Adil Safi (Poet and writer)

زه د کتابونو هغه وږی یم چې څومره ډېر لولم لا مې ولږه ډېرېږي کتابکده

One day with Allah😊

🍂🍁

🖤❤️💚

Add to Story

Edit profile

...

زه په کتاب مئین یم ،زما نړۍ او زما ژوند په کتابونو ښکلی او رنګین دی ،

I Love ALLAH at **Allah is my god, only one**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلیکوال لنډه پیژندنه

ښاغلي عثمان عادل (صافی)، په ۱۳۸۱لمریزکال له هیواده بیرون، د هجرت په دیار کې یې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. څلور کلن وو چې هیواد ته راستون شو،او دلته یې لمړنۍ زده کړې پیل کړې.

۱۴۰۰لمریزکال کې یې ښونځی پای ته ورسوه،او همدا محال په یو شخصي انستیټیوټ کې د طب پوهنځي د نرسنګ برخې محصل دی.محترم صافی صېب، له کوچنیوالي د ادب او د مطالعې مینوال او روږدي وو، همدغې مینې دې ته وهڅوه چې خپل فکر په کتابي شکل،تر خپلې ټولنې ورسوي، دا نن چې یې تاسو دا کتاب ولوست دا یې پنځم کوچنی کتاب دی، چې ټولنې ته یې وړاندې کوي. له دې وړاندې یې لاندې برخو کې کتابونه لیکلي:

اثار

1:ستا یادونه لیوني دي: شعري ټولګه(pdf)

2:څنګه لیکوال شم: د لیکوالۍ فن کتاب(pdf)

3:صحیح احادیث(pdf)

4:دالله پاک نومونه او ګټې یې(pdf)

5:همدا کتاب سحر(جادو)(pdf)

محترم عادل صېب ډیر زیارکښ انسان دی؛په لږ عمر کې یې د ټولنې لپاره ډېرڅه کړي،رب دې یې لا په هڅو او خدمتونو کې برکت کړي.

په درنښت

انجینیر محمد شعیب افلح

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**